# ډاکټر خانصاحب
# او
# "نابالغه" اولس

م-ر-شفق

د میاشتنۍ "پښتون" (مۍ ۲۰۰۹) کښې مۍ د ګران امجد شهزاد یوه په زړۀ پورې مقاله "ډاکټر خانصاحب" ولوستۀ. "پښتون" اداره او مقاله لیکونکے دواړه د ستائیلو جوګه دي چې د یو پیاوړي ملي او سیاسي شخصیت یاد ئې تازه کړو.

لیکنه کښې ګران امجد شهزاد دا خبره سپینه کړه چې د "باچا خان" د مشر ورور، اصل نوم "خانصاحب" ؤ. دا "عبدالجبار" ورپسې هسې تړلې شوې دے او د دې د ثبوت دپاره زما په خیال دومره هم کافي ده چې "زما ژوند او جدوجهد" کښې باچا خان چرته هم عبدالجبار نۀ دے لیکلے، "خانصاحب" ئې لیکلے دے.

ښاغلي امجد شهزاد د مقالې اخر کښې د ډاکټر "خانصاحب" د شهادت (۹-مۍ ۱۹۸۵ء) په بابله لیکي:



"خان عبدالولي خان د ډاکټر خان صاحب د شهادت وجه د هغۀ سیاسي تېروتنې او ذمه وار ئې د پنجاب سول او فوځي بېوروکرېسي ګڼي".

"باچا خان او خدائي خدمتګاري" کښې د خان عبدالولي خان سیاسي تجزیې په حقائقو اړه لري او د هغۀ د سیاسي بصیرت (زیرکتیا) څرګندونه کوي. د ډاکټر خان صاحب د "تېروتنې" وجه هم ښاغلي عبدالولي خان په ګوته کړې ده. د هغه دا جمله د غور جوګه ده (د دغه کتاب په دوېم ټوک ۳۴۲ مخ) لیکي:

"ډاکټر صاحب د جهان یو شریف، یو مخیزے، د داسې لارې سړے ؤ، چې په هر چا هغۀ د شریف سړي ګمان کولو-"

کوم وخت کښې چې "ون یونټ" جوړ شو- پاکستان دوه صوبې شوې. یو مشرقي پاکستان (اوسنی بنګله دېش) او بل مغربي پاکستان، چې د نن وخت څلور واړه صوبې، ریاستونه (سوات او دیر) ایجنسۍ او قبائلي علاقې پکښې شامل وې. نو ډاکټر خان صاحب د مغربي پاکستان وزیراعلي وټاکلے شو. د "ون یونټ" په بانه د صوبو وجود او خودمختاري ختم کړې شوه. باچا خان د دې منصوبې څخه وېزاره ؤ او دا ئې د قام خلاف یو پټ سازش(١) ګڼلو او عامو جلسو کښې به ئې "ون یونټ" ته "تور ګونګټ" وئیلو. د دغه دور ګورنرجنرل سکندر مرزا څوک چې د ١٩٥٦ء آئین ترمخه د پاکستان وړومبے صدر ؤ، د "ډاکټر خانصاحب" دوست ؤ. هغهٔ د ډاکټر خانصاحب په ذریعه خدائي خدمتګاران ځان سره ملګري کول غوښتل او مشوره ئې ورکوله چې د ازادۍ ټول جدوجهد خو تاسو کړے دے. ازادي چې راغله نو مزې د نورو شوې، په تاسو د قېدوبند سختۍ، کړاوونه او تکلیفونه نور زیات شو، ما (سکندر مرزا) سره چې حکومت کښې شامل شئ نو د تورونو بدنامۍ او د جېلونو سختۍ به مو ختمې شي. ټول پاکستان کښې به ازاد ګرځئ او هر قسمه پابندۍ به هم ختمې شي. د ځینو خدائي خدمتګارانو هم دغسې خوښهٔ وه. "ډاکټر خانصاحب" د پنجاب د سیاسي مشرانو مشتاق احمد ګورماني، میا ممتاز دولتانه او نورو صلاح ومنله. اصل کښې ډاکټر خانصاحب دومره خواخوږے او په صحیح معنو کښې جمهوریت نواز شخصیت ؤ چې ټول مغربي پاکستان او په تېره تېره پنجاب کښې په اولسي سطح ډېر زیات خوښولے شو.

اوس کهٔ باچا خان او خدائي خدمتګار مشران د ډاکټر خان صاحب سره عملي مرسته وکړي نو ښکاره فائده به ئې دا وي چې پابندۍ به ختمې شي، د سیاست لارې به پرانستې شي او د خلقو د خدمت زیاتې موقعې به لاس ته راشي خو.... بیا هم باچا خان چپ ؤ او څهٔ دلچسپي ئې پکښې نهٔ اخسته. له دې کبله خدائي خدمتګارو هم خاموشي اختیار کړه. دغو ورځو شپو کښې بزرګ خدائي خدمتګار مولانا محمد عنایت الله د خاکسار منزل مردان، حاجي عبدالحکیم صاحب سره یوځائے (د لوئے اختر په موقع) سردریاب ته د باچا خان ملاقات له روغلي وو د "ون یونټ" په حواله ئې باچا خان سره یوه خوندوره مکالمه وکړه او د هغهٔ موقف ئې معلوم کړو. د دوي خبرې اترې (د مولانا صاحب د بیان مطابق) څهٔ په دې ډول شوې وې.

مولانا عنایت الله: باچاخانه! د دریمې درجې خدائي خدمتګاران ستاسو نه ګیله من دي.

باچا خان: (حېرانه غوندې شي) د دریمې درجې نه ستاسو مطلب څهٔ دے؟

مولانا: دا هغه عاجزان مسکینان خلق دي چې په خپلو وینو زوو، خوارۍ مزدورۍ حلاله روزي ګټي کهٔ د هاړ غارمهٔ وي او کهٔ د پوه ماه ساړهٔ وي خو کله چې ستاسو غږ ورته و رسي نو دوي خپله کوداله بېلچې وغورزوي کور او بال بچ د خدائے په اسره پرېږدي او ستاسو په اواز لبیک ووائي. خپل سرونه په تلي کښې د سیاست مېدان ته راودانګي، ځانونه په خپله ګرفتارۍ له ورکړي. په بېنتونو وهلے

---

١- بیا هم دغه موده کښې د سازشي منصوبې راز په ډاګه شوے ؤ.

شي او اذيتونه وزغمي، د جېل په تورو تنګو کوټو کښې مېچنې اوړوي خو کله چې ښې ورځې راشي نو د دوي بيا څوک تپوس هم نهٔ کوي، څوک لکه د ګاڼې د غوئي په شان خپل کار او زيار ته جوت شي او څوک لاړ شي، چرته د وترو ګټ کښې کښېني.

دې بيان کښې مولانا صاحب د باچا خان څخه دا پوښتنه هم وکړه کهٔ چرې د ډاکټر خان صاحب مرسته وکړے شي نو سياسي تاؤتريخوالے به له مينځه لاړ شي او زمونږ خلاف به د غلطو پروپېګنډو او غلط فهميو سلسله هم ختمه شي...."

باچا خان چې د مولانا صاحب معروضات واورېدل نو سترګې ئې نمجنې شولې، وې وئيل "مولانا-تاسو چې څۀ ووئيل دا په ځائے دي. د خدائي خدمتګارانو قربانۍ د ستائيلو دي، د هغوي خدمتونه د هېرېدلو نهٔ دي، دوي زما په وجه مدام "ډاکټر خانصاحب" له احترام ورکړے دے خو اوس چې ډاکټر صاحب د "ون يونټ" ملګرے شوے دے نو دا ئې د خدائي خدمتګارانو د قربانيو احساس او لحاظ ونکړلے شۀ- "خانصاحب يو ساده سپېځلے بنيادم دے، دے د سازشيانو په خوږو پستو خبرو تېروتلے دے، ماته خو داسې ښکاري لکه زما د لاس دا کرښې چې ماته ښکاري. کله چې هم د سازشيانو منصوبه سرته ورسي نو ډاکټر صاحب به يواځې پاتې شي او يا به بيا د هغه جنازه راځي".

او لږه موده لا تېره نهٔ وه چې هم هغسې وشول کوم چې باچا خان د خپل سياسي فراست په سترګه ليدل. د خان عبدالولي خان په الفاظوکې:

"په نهم مۍ ۱۹۸۵ء ئې د لاهور په ښار کښې د خپل مشر زوي سعدالله خان په سرکاري بنګله کښې په چړو سورے سورے، په وينو لت پت خپل کلي اوتمانزو ته او خپلې بنګلې ته راوړو او هم هلته د خپلې بنګلې په مخکښې ښخ پروت دے"

(دوېم ټوک- باچا خان او خدائي خدمتګاري ۳۲۵مخ)

وايي چې يو سړے عطاء محمد (د ميانوالي) د خپلې نوکرۍ د بحالۍ درخواست په لاس ډاکټر خانصاحب له ورغے. خبرې ئې ورسره وکړلې، بيا چې روان شۀ نو واپس ئې رامنډه کړه او په خانصاحب ئې د چړې ګوزارونه وکړل. ډاکټر خانصاحب ژوبل حالت کښې د هغۀ د قابو کولو هڅه کوله چې د ګېټ خوا کښې بېهوشه پرېوت. دغه وخت نور خلق راجمع شوي وو، سړے په موقع ګرفتار کړے شو او وروستو بيا پانسي کړے شۀ. خو د قتل د سازش پته ونۀ لګېده.

مولانا عنايت الله صاحب د خپلو سترګو ليدو بله واقعه دا هم بيانوله چې صدر سکندر مرزا چارسدې ته د ډاکټر خانصاحب په وژنه غمرازۍ او لاس نيوې لا راغلے ؤ، د ډاکټر خانصاحب په مزار ئې دعا کوله، په سترګو ئې تورې چشمې لګولې وې، اوښکې ئې په رومال وچولې او باچا خان ته ئې وئيل:

"زۀ به د ډاکټر خانصاحب بدل اخلم"

دا خبره ئې يو څو ځله تکرار کړه نو باچا خان ورته مخ په مخ ځواب ورکړو "مرزا صاحب! تاسو د خان صاحب بدل نۀ شئ اخستے. زۀ به درته دومره عرض وکړم چې په دې جرم کښې بې ګناه خلق مۀ ازاروئ!"

د ۱۹۳۵ء ايکټ لاندې دوه ځله ټاکنې شوې وې او زمونږ بې نومه صوبه کښې دواړه ځله خدائي خدمتګارو ګټه کړې وه. په ۱۹۳۷ء کښې دلته لويه

سیاسي ډله "کانګرس" وه چې غلبه پکښې د خدائي خدمتګارو وه. دوېم ځلي ټاکنې ۱۹۴٦ء کښې شوې وې. دې دور کښې د "شین پوشو" نوم او شور ښۀ زیات شوے ؤ. پېرنګي د نوکو پوندو زور لګولے ؤ، باچا خان او د هغۀ ملګرو پسې ناروا او د اخلاقو نه پرېوتې پروپېګنډه کولې شوه. ولې خدائي خدمتګارو د باچا خان په ښودلې لار روان وو او ټاکنو کښې ئې واضح اکثریت حاصل کړو. په دې دوارو مودو کښې ډاکټر خانصاحب وزیراعلي ؤ. ورسره به وړه غونډې کابینه وه، یو طرفته پېرنګي د سازش لوبه توده ساتلې وه، د خپلو تنخوادارو په ذریعه ئې باچا خان او د هغۀ ننګیال ملګري په اولس کښې بدنامول، بل خوا "ډاکټر خانصاحب" د قامي اوسماجي خدمت داسې عملي نمونې پېش کړې چې د تاریخ (کۀ چرته وي) پاڼې به ئې هېرې نۀ کړلے شي. ځینې واقعې خو داسې دي چې د نن زمانې خلقو ته به خیالي قصې او افسانې ښکاري ولې حقیقت دا دے چې د ډاکټر خانصاحب جمهوري رویه او مزاج او د هغۀ سپېځلے شخصیت او کردار نۀ یوائې د خدائي خدمتګار تحریک مشرانو بلکې د هغه سیاسي مخالفینو هم منلے او ستائیلے دے.

د قانون او آئین جنګ کښې خدائي خدمتګار تحریک همېشه بریالے پاتې شوے دے نو پېرنګي د خپلې سیاسي حکمت عملۍ ترمخه باچا خان او او د هغۀ د قامولۍ تحریک د خپلو استعماري پالیسو دپاره یوه سنګینه خطره ګڼله نو پټ په پټه سازشونو له ئې دوام ورکړے ؤ، او داسې زهرجنه پروپېګنډه ئې ورپسې د خپلو "پټتیانو" او پیرانو شېخانو او وظیفه خورو ملیانو په خُلۀ خپروله چې تر اوسه دوام لري خو دغسې سنګینو حالاتو کښې هم ډاکټر خان صاحب د حکمرانۍ یو داسې انداز خپل کړے ؤ، چې د "خلافت راشده" نه بغېر د مسلمانانو حکمرانانو په تاریخ کښې به ئې مثال په ګرانه پېدا شي. "آل انډیا کانګرس" پېرنګي استبداد ته پتون ټېولے ؤ او د سیاست په مېدان کښې ئې په آئیني چوکاټ کښې دننه مقابله کوله او دلته خدایي خدمتګارو د کانګرس په مرسته ټُورې سره مرې مړله، زور طاقت او اختیار کۀ هر څو د پېرنګي په لاس کښې ؤ خو د صوبې وزارت د ډاکټر خانصاحب مشر تابه کښې ثابته کړه چې دوي د خپل سماج د اولسي اقتصادي او جمهوري ازادۍګټلو په چل پوهېږي او د خپل قام او وطن خدمت په خپله ډېر ښۀ کولے شي. په دې ترځ کښې د ډاکټر خانصاحب شخصي، اولسي او جمهوري کردار دومره پیاوړے او ځانګړے دے چې سارے نۀ لري.

وزیراعلي ډاکټر خانصاحب له به هر څوک، هر وخت ښۀ په ډاډه زړۀ ورتلے شو او خپلې لانجې کشالې به ئې ورته بیانولې.

کۀ په "پېره ولاړ" سپاهي به مېلمه یا فریادي نېغ په نېغ ملاقات ته نۀ پرېښودۀ لکۀ څنګه چې عام قاعده ده نو اکثر به خبره ورانه شوه، شور به جوړ شۀ نو ډاکټر خانصاب به په خپله دې شورماشور کښې د خپل ځائے نه رابهر شۀ، په خپلو سترګو به ئې ولیدل چې "پېره دار سپاهي" راغلي مېلمه سره په شر دے نو سپاهي به ئې له ګرېوانه ونیوۀ ورته به ئې وئیل " تۀ خو ماته د پېرنګي ایجنټ ښکاري نابالغه! مونږ ورله زړۀ ورکوو او تۀ ترې زړۀ وباسې!!؟"

وائي چې یوه ورځ څوک "ناشولته" ښاربازار کښې مخې له ورغے د ډاکټر خانصاحب ګرېوان ته

ئې لاس ورواچوو او په زوره ورته وائي "تا زمونږ دپاره څۀ وکړل؟ ډاکټر خانصاحب ورته وخندل "نابالغه دا مې وکړل کنه! چې په ډک بازار کښې به د وزيراعلي ګرېوان ته لاس ور اچوي او څوک به درته غږ هم نۀشي کولے"

محترم ظهور الحق صاحب مرحوم زما مشر او ادبي استاد ؤ. د پخواني "پښتون" ليکونکے ؤ. هغۀ د خپلو سترګو ليدلې واقعه بيان کړې وه:

"ډاکټر خان صاحب وزيراعلي دے، په دوره روان دے، د پوليس بدرګه ورسره ده او د نورو نه علاوه صوبائي وزير قاضي عطاءالله صاحب هم ورسره ملګرے دے. د لارې دواړو غاړو ته د مخالف ګوند کارکنان ولاړ دي، نعرې وهي. کنځلې او بدې ردې وائي، سپکه سپوره خُلۀ خوزوي څوک پکښې د تيلي ورته کولو دپاره دکانې لوټې ګوزار هم وکړي. ډاکټر خانصاحب خوږ درونډ په تللي قدمونو روان دے. کۀ پوليس څۀ حرکت کول وغواړي نو ډاکټر خانصاحب ورله مخه وهي- دې مهال کښې وران کاري د بدتميزۍ انتها وکړي، ډاکټر خانصاحب (وزيراعلي) له په مخ توکانې وروتوکي، ډاکټر خانصاحب له جېبه رومال راوباسي او خپل مخ پرې وچوي او صرف دومره وائي "نابالغو! دا تاسو څۀ کوئ!" خو قاضي عطاءالله خان دا بې سرېتوبي قطعاً نۀ شي زغملے اور لمبه شي او له ډېره سوخته چغه کړي... "ډاک... تره!"، "پوليس له ورکړه حکم-" ولې "خانصاحب" هغۀ له هم په خُلۀ لاس کېږدي" نا نا مۀ مۀ! دا نابالغه دي".

دا هم يوه مشهوره واقعه ده وائي چې د بنو سيمه کښې يوه هندوه جينۍ مسلمانه شوه نوم ورله "اسلام بي بي" کېښودے شۀ او چا زلمي ته په نکاح شوه. مور پلار جينۍ واپس غوښتله، خبره عدالت ته لاړه، اوس قانون او عدالت چې هر څنګه فېصله کوله خو شخړه د هندو او مسلمان جوړه شوه او وزيراعلي خو هسې هم د "هندوانو" ملګرے ؤ، ځکه چې د "کانګرس" مرسته ئې کوله نو هنګامې جوړې شوې، احتجاجي مظاهرې شروع شوې او مشهوره شوه چې مسلمانه شوې هندوه جينۍ "اسلام بي بي" ډاکټر خان صاحب د وزيراعلي بنګله کښې پټه کښېنولې ده. وزيراعلي کۀ هر څو خبره سپينوله او د مظاهره کوونکو تسلي ئې کوله خو د پېرنګي او د پېرنګي د ايجنټانو په پټ لمسون راپاربدلو خلقو د "خانصاحب" خبره نۀ اورېدله. ډاکټر خانصاحب خپل ګاډي ته وروختو، ګاډے لار روان شوے نۀ ؤ چې صدر بخت جمال لاس ور وږد کړو او ډاکټر خانصاحب ئې له ګرېوانه راکښلو، ډاکټر خان ترې خپل ګرېوان خلاص کړو او ورته ئې بس دومره ووې "دا په تا څۀ چل وشۀ نابالغه! اوس چکونه لګوې!؟

صدر بخت جمال بابا د نوي کلي صوابۍ مسلم ليګي مشر ؤ. ما د ۱۹۷۰ء انتخابي مهم کښې يو ځل په سياسي سټېج ليدلے او د دۀ تقرير اورېدلے ؤ. زما خوښ شوے ؤ، ښه ښائسته شخصيت ئې ؤ، وروستو چې ما "عثمان ميډيکل سټور (نوي کلي صوابۍ بازار)" کښې د همځولو مجلس کښې د دغه "سپين ږيري زلمي" ستائينه کوله نو معلومه شوه چې دا مشهور سياسي لاربښود صدر بخت جمال ؤ او د ملګري بلال خان پلار ؤ. ملګري بلال يوه ورځ خبره کوله چې "بابا" به مې د تېر دور سياسي هلو ګولو قصې کولې او د خدائي خدمتګارو پر ضد مبارزې به ئې بيانولې خو کله چې د ډاکټر خانصاحب د شهادت خبر خور شۀ نو صدر بخت جمال هم ورپسې ژړلي وو.

پاتې په بله ګڼه کې